## الدرس الثالث
## احكام الذكات

## دریم درس
## د ذبحې احکام

د اُوچې د حیواناتو د ذبح شرط دادی ، چې د شریعت د اُصولو مطابق ذبحه وکړی شی ، د ذبحې طريقه داده چې د حیوان مرئ او د ساه اغستلو ناله په ښيئ طريقی سره پريکړی شی  که د مجبورئ په حالت کښې د بدن د هر رګ نه وینه لاړه شی نو حلال دي، د شرعي ذبحې نه بغير د حيوان خوراک حرام دي .

**د ذبحې شرطونه** :

۱=ذبحه کونکی انسان بايد مسلمان وی ، عاقل وی ، یا اهل کتابی وی ، دلیونی ، نشائی ، او ماشوم (چی ښه او بد نه پیژنی) ذبحه جائز نده ، او نه د کافر ، مجوسی ، بت پرست او قبر پرست د لاس ذبحه صحيح ده .۲=د ذبحې آله بايد موجوده وی ، هر هغه آلې سره ذبحه کول جائز دی چې تيره طرف ئې وی پدی تیره طرف باندی دپری کیدلو دوجی نه وینه روانه شی ، که د اُوسپنی وی ، اوکه ګټه وغیره وی ، مګر هډوکی ، نوک او غاښ باندي ذبح کول جائز ندی .

۳=ذبحه کښی د مرئ پريکول دی یعنی د ساه اغستلو ناله او د خوراک څښاک ناله او د مرئ غټ رګونه پريکول ضروری دی حکمت ددی ځائی په پريکولو کښې دادی چه دلته ټول رګونه راجمع شوی دی ، یو خو وينه په ښی طريقی سره وځی  نو غوښه ئې خوږه وی ، او بل حيوان ته په ساه وتلو کښې آسانتيا وی  که چرته مجبوری وی ، او حيوان په مرئ کښې ذبحه کول ممکن نه وی ، مثلًا ښکار وغيره وي ، نو دداسې حيوان ذبح صرف زخمی کول دی ، که د بدن په هر ځائی کښې وی او هغه حیوانات لکه مُنخنقه(خفی)پهانسی کړی شوی وی)موقوذة (ټکولی شوی وی) متردية ، (د بره نه را غختلې شوی) نطیحة ، (ښکر باندي وهلي شوي) او هغه چه درندګانو ماته کړی وی ، دداسې قسم حيوان خوړل پدي شرط جائز دی چی ساه (روح) پکښې موجود وی او ذبحه شی .٤= د ذبحې په وخت کښې ذبح کونکی به بسم الله وائی ، او تکبير وئيل هم سنت دی .

**دذبحې کولو آداب** :

۱–پسه چاړه باندي ذبحه کول مکروه دي ۲–د حيوان په مخامخ چاړه تيره کول جائز ندی .۳–قبلې ته د حيوان مخ کول غوره دی.د ذبحې په وخت کښې د حيوان څټ ماتول یا پری کول د روح د وتلو نه مخکښې مکروه دی .د غواګانو او ګډو بیزو په ذبح کښې سنت طريقه داده چی ګس اړخ باندی به څملولی شی او اوښ په اُولاړه باندی چی ګسه خپه ئې تړلی شوی وی .